د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حــــج او اوقافــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

**دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد**

**دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

**۱۰/ ذی الحج/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ٦/ جوزا/۱۴۰۵هـ، ش**


# د لوی اختر د ورځې مسنون او مستحب اعمال او د اختر په ورځو کې له ناوړه رسمونو او عادتونو څخه ځان ساتل

الحمد لله الذي هدانا لهذا وما كنا لنهتدي لولا أن هدانا الله ، رضينا بالله رباً وبالاسلام ديناً وبمحمدٍ نبياً أما بعد:قال الله سبحانه وتعالى:(قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ * لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ). الأنعام: (١٦٣)

**درنو حاضرینو او باعزته مسلمانانو !**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

درنو ورونو! نن ورځ زمونږ د لوی اختر ورځ ده، نن ورځ د نړۍ په اکثرو هیوادونو کې مســـلمانان د اختر لمونځ کوي او داختر خوشحالي لمانځي.

اختر او د اختر لمونځ د اسلام له سترو شعائرو څخه ده ، چې الله تعالی مسلمانانو ته د نعمت په توګه مشروع کړی ده.کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت وکړ، نو د مدینې منورې خلکو به په کال کې دوه ورځې لمانځلې او خوشحالي به یې په کې کوله او ډول ډول، پاکې جامې به اچولې او ډول ډول خوراکونه به یې په کې کول. رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه چې دا کوم ډول ورځې دي؟ مسلمانانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل، چې په کال کې د مدینې منورې خلک دوه ورځې لري؛ چې په هغې کې خوشحالي کوي او خپلې خوښـې په کې لمانځي . رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته وفرمایل: « إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَبْدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا يَوْمَ الأَضْحَى وَيَوْمَ الْفِطْرِ ». سنن أبی داود-ن (١/ ٤٤١)

ژباړه: بیشکه الله تعالی ستاسو دا دوه ورځې په داسې دوه ورځو بدلې کړلې چې هغه ورځې ددې ورځو څخه غوره دي ، چې هغه یوه ورځ د لوی اختر ده او بله د کوچني اختر ورځ ده.

ددې لپاره چې مسلمانان داسې فکر ونکړي چې اخترونه یواځې دخوراک، څښاک او لهو ولعب ورځې دي ، الله جل جلاله ددې ورځو پیـل په عبادت وکړ، چې هغه د لوی اختر او د کوچني اختر لمونځونه دي او په لوی اختر کې الله تعالی داختر د لمانځه څخه علاوه یو بل مهم عبادت هم په شتمنو مسلمانانو واجب کړی دی چې هغه د لوی اختر قرباني ده.

## د لوی اختر مسنون او مستحب اعمال:

په لوی اختر کې ځینې اعمال شته چې هغه مسنون دي او ځینې اعمال شته چې هغه مستحب دي او باید چې مسلمانان هغه رعایت کړي، چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

**۱-د اختر لمانځه لپاره غُسل سنت دی:** د اختر په ورځ غُسل کول سنت دي. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَغْتَسِلُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَيَوْمَ الْأَضْحَى). سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (۲/ ۳٤٦)ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به غُسل کولو په کوچني اختر کې او په لوی اختر کې.

همدارنګه د صحابه کرامو او تابعینو رضي الله عنهم څخه هم دا عمل ثابت دی.په یو روایت کې راځي: عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، أَنَّهُ «كَانَ يَغْتَسِلُ يَوْمَ الْعِيدَيْنِ» معرفة السنن والآثار (٥/ ٤٩) ژباړه: سلمه بن الاکوع صحابي رضي الله عنه به په دواړو اخترونو کې غُسل کولو.

په یو بل روایت کې راځي: چې :أَنَّ عَلِيًّا كَانَ «يَغْتَسِلُ يَوْمَ الْعِيدَيْنِ، وَيَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَيَوْمَ عَرَفَةَ، وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يُحْرِمَ».شرح السنة للبغوي (۲/ ۱٦۷)

ژباړه: بیشکه علی رضي الله عنه به غسل کولو په دواړو اخترونو کې او د جمعې په ورځ او د عرفې په ورځ او کله به چې یې اراده وکړه د احرام تړلو.

امام محمد رحمه الله په موطأ کې لیکلي دي: (الغسل یوم العید حسن وليس بواجب ) الموطأ - رواية محمد بن الحسن (۱/ ۱۳۰)

ژباړه: غُسل د اختر په ورځ نیک کار دی او واجب نه دی.

امام ابن نجَیم رحمه الله لیکي: (وَالصَّحِيحُ أَنَّهُ سُنَّةٌ وَسَمَّاهُ مُسْتَحَبًّا لِاشْتِمَالِ السُّنَّةِ على الْمُسْتَحَبِّ). البحر الرائق (۲/ ۱۷۱)

ژباړه: صحیح خبره داده چې د اختر په ورځ غُسل کول سُنت دي او په متونو کې ورته مستحب ځکه ویل شوي دي چې دا سنت عمل په مستحب عمل هم مشتمل دی.

**۲- د اختر په سهار لمانځه ته د تللو پر وخت نوې یا مینځل شوې جامې اغوستل او خوشبوی لګول:** د اختر په لومړي سهار جدیدې یا مینځل شوې جامې په تن کول او خوشبوی لګول مستحب عمل دی.

په حدیث شریف کې راځي: عن بن عباس قال كان رسول الله صلى الله عليه و سلم يلبس يوم العيد بردة حمراء. المعجم الأوسط (۷/ ۳۱٦) وقال الهيتمي: ورجاله ثقات.مجمع الزوائد ومنبع الفوائد. محقق (۲/ ۲۳٤)

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به اغوستلو د اختر په ورځ .څادر سور .

په یو بل روایت کې راځي:عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ : «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ يَلْبَسُ بُرْدَهُ الأَحْمَرَ فِي الْعِيدِ وَالْجُمُعَةِ». السنن الكبرى للبيهقي. ط المعارف بالهند (۳/ ۲٤۷) ژباړه: د حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم به اغوستلو خپل سور څادر په اخترونو کې او د جمعې په ورځ.

حنفي فقهاء کرام وايي چې دا هغه څادر ؤ، چې په يمن کې جوړيدلې او سره او شنه خطونه په کې ؤ او خالص سور څادر نه ؤ. ملاعلي القاري رحمه الله په دې اړه ليکي: (والمراد بالأحمر كون خطوطه حمرا). مرقاة المفاتيح (٧/ ٢٧٧٦)مراد (احمر) سور څخه دادی چې په هغه څادر کې سره خطونه وو.

امام کاساني رحمه الله ليکلي دي:(فَمَنْ أَرَادَ أَنْ يَقُومَ بين يَدَيْ الْمُلُوكِ لِلْخِدْمَةِ في الشَّاهِدِ أَنَّهُ يَتَكَلَّفُ لِلتَّنْظِيفِ وَالتَّزْيِينِ وَيَلْبَسُ أَحْسَنَ ثِيَابِهِ تَعْظِيمًا لِلْمَلِكِ وَلِهَذَا كان الْأَفْضَلُ لِلرَّجُلِ أَنْ يُصَلِّيَ في أَحْسَنِ ثِيَابِهِ ... وَكَانَتْ الصَّلَاةُ مُتَعَمِّمًا أَفْضَلَ من الصَّلَاةِ مَكْشُوفَ الرَّأْسِ لِمَا أَنَّ ذلك أَبْلَغُ في الِاحْتِرَامِ )بدائع الصنائع (١/ ١١٤)

ژباړه: څوک چې ددې اراده لري چې د پاچاهانو په مخ کې د خدمت لپاره ودريږي ، معلومه شوی ده چې داسې شخص زيات تکلف کوي په نظافت او زينت کې او اغوندي غوره جامې د پاچا د درناوي لپاره ، نو ځکه افضله داده سړي لره لمونځ وکړي په خپلو ښاسته جامو کې او په ډيرو پاکو جامو کې... او لمونځ کول د لونګۍ سره دا ډيره افضله ده د لمانځه کولو نه په لوڅ سر سره ،ځکه چې دا مبالغه ده په احترام کې. د اخترونو لمونځونه او د جمعې لمونځ په ښايسته او پاکو جامو کې کول، مسواک وهل او خوشبوی لګولو کې کوم توپير نلري ، نو څرنګه چې د جمعې لمانځه لپاره د خوشبوی لګول سنت او مستحب دي ، دارنګهد اخترونو په لمونځونو کې هم د خوشبوی لګول سنت او مستحب کار ده.

امام مالك رحمه الله فرمايي: ما داهل علمو څخه اوريدلي دي چې هغوی به د خوشبو لګول او زينت راوستل په هر اختر کې مستحب ګڼل او امام له هر چا نه زيات ددې کار لپاره لائق دی ځکه د خلکو په منځ کې هغه ته سترګې متوجه وي.الموسوعة الفقهية الكويتية (١٤ /١٦٧)

**۳-په لوی اختر کې سهار څه نه خوړل:** په لوی اختر کې مستحب طريقه داده چې داختر د لمانځه څخه مخکې دې څه نه خوري او کله چې يې قرباني وکړه ، نو د قربانۍ غوښه دې وخوري.

په يو روايت کې راځي: عن بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَانَ لَا يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتَّى يَطْعَمَ، وَلَا يَطْعَمُ يَوْمَ النَّحْرِ حَتَّى يَذْبَحَ. صحيح ابن خزيمة ط ٣ (١/ ٦٩٤)

ژباړه:بريده د خپل پلار څخه روايت کوي د هغه پلار وايي چې بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم به نه وتلو د کوچني اختر لمانځه تر دې پورې چې يوڅه به يې وخوړل او خوراک به يې نه کولو د لوی اختر په ورځ تر هغې چې قرباني به يې وکړه.

د سنن دارمي په لفظ کې داسې راځی: «وَكَانَ إِذَا كَانَ يَوْمُ النَّحْرِ لَمْ يَطْعَمْ حَتَّى يَرْجِعَ، فَيَأْكُلَ مِنْ ذَبِيحَتِهِ» سنن الدارمي (٢/ ٩٩٧)

ژباړه: او رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې کله د لوی اختر ورځ شوه څه يې نه خوړل ترڅو پورې چې کورته به راوګرځيدلو ، نو بيابه يې د خپلې قربانۍ څخه خوراک وکړو.

**۴-د لوی اختر په ورځ تکبيرونه ويل سُنت دي:** د لوی اختر په ورځ مطلق تکبيرونه ويل غوره عمل او سُنت دي. الله تعالى فرمايلي دي:( وَلِتُكَبِّرُوا اللَّهَ عَلَى مَا هَدَاكُمْ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ). البقرة:(١٨٥) ترجمه:او چې په لويي سره ياد کړئ الله په دې چې هدايت يې کړی دی تاسې ته او لپاره د دې چې تاسې شکر وباسئ ( د رخصت، آسانی او په نعمتونو باندې).

داختر تکبيرونه داسې دي:( اللَّهُ أَكْبَرُ ، اللَّهُ أَكْبَرُ ، لَا إِلَهَ إلَّا اللَّهُ وَاَللَّهُ أَكْبَرُ، اللَّهُ أَكْبَرُ ، وَلِلَّهِ الْحَمْدُ ). البحر الرائق (٢/ ١٧٨)

فتاوى عالمگيري کې راځي:( وَيُكَبِّرُ في الطَّرِيقِ في الْأَضْحَى جَهْرًا يَقْطَعُهُ إذَا انْتَهَى إلَى الْمُصَلَّى وهو الْمَأْخُوذُ بِهِ). الفتاوى الهندية (١/ ١٥٠)

ژباړه: او تکبير به وايې په لاره کې په لوی اختر کې په جهر سره او بند به کړي تکبير ويل کله چې عيدگاه (يا مسجد) ته ورسيږي او همدا قول باندې عمل دی.

**٥- عيدگاه ته په تللو او راتللو کې د لارې بدلول مستحب دي:** کله چې داختر لمانځه ته ځي ، نو په يوه لاره دې لاړ شي او کله چې کورته راځي ، نو په بله لار دې راشي.

په حديث شريف کې راځي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدٍ خَالَفَ الطَّرِيقَ» صحيح البخاري(٢ /٢٣) ژباړه: د حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي کله به چې د اختر ورځ شوه ، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به لاره بدلوله.

**٦-داختر لمانځه ته پياده تلل سنت دي:** د اختر لمانځه لپاره مسجد ته يا عيدگاه ته پياده تلل سنت دي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم متابعت په کې پروت دی.په حديث شريف کې راځي:عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ:«كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ إِلَى الْعِيدِ مَاشِيًا، وَيَرْجِعُ مَاشِيًا»سنن ابن ماجه (١ /٤١١)ژباړه:د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به وتلو عيدگاه ته پياده او له عيدگاه څخه به پياده راگرځيدلو .په يو روايت کې راځي: عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: «مِنَ السُّنَّةِ أَنْ تَخْرُجَ إِلَى العِيدِ مَاشِيًا» وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا الحَدِيثِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ العِلْمِ: يَسْتَحِبُّونَ أَنْ يَخْرُجَ الرَّجُلُ إِلَى العِيدِ مَاشِيًا، وَأَنْ لَا يَرْكَبَ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ). سنن الترمذي ت شاكر (٢ /٤١٠)

ژباړه:د حضرت علی کرم الله وجهه څخه روايت دی، هغه وايي دا سنت ده چې ته وځي عيدگاه ته پياده.

امام ترمذي وايي او په دې حديث باندې عمل دی د اکثرو اهل علمو ، هغوی مستحب گڼي چې ووځي سړی عيدگاه ته پياده او په سپرلی سپور نشي ، مگر د عذر له امله.

**٧-د اختر د خطبې اوريدل سنت دي:** کله چې امام له لمانځه څخه فارغ شي، نو خطبه به وايي او د اختر د خطبې اوريدل سنت دي. په کار ده چې خطبه واوري او په اجتماعي دعاء کې اشتراک وکړي.

په يو حديث شريف کې راځي:عن عبدِ الله بنِ السَّائب، قال: شهدتُ معَ رسولِ الله - صلَّى الله عليه وسلم - العيدَ، فلما قضى الصلاةَ، قال: «إنا نَخْطُبُ فمن أحبّ أن يَجْلِسَ لِلخطبة فليجلِس، ومن أحبّ أن يذهبَ فَلْيَذهب» سنن أبي داود (٢ /٣٦٠)

ژباړه: د عبدالله بن سائب رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې زه حاضر شوم د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره اختر ته (د اختر لمانځه ته) کله چې د اختر لمونځ خلاص شو ، نبی عليه السلام وفرمايل: مونږه خطبه وايو ، پس د چاچې دا خوښه وي چې خطبې ته کيني ،نو هغه دې کينئ او څوک چې دا خوښه گڼي چې لاړ شي، نو لاړ دې شئ.

**٨-د اختر په ورځ کې د خوشحالۍ او خوښۍ اظهار مستحب دی.** اختر چې د خوشحاليو د ښکاره کولو موسم دی، مستحب ده چې هر مسلمان په کې دخوشحاليو اظهار وکړي او دغه ورځ د خوشحاليو ورځ نړۍ ته معرفي کړي او هغه لوبې په کې وکړي چې مباح وي او د لوبو په کولو اعتدال رعايت کړي . امام ابن نُجَيم رحمه الله ليکلي دي:( وَأَنْ يُظْهِرَ فَرَحًا وَبَشَاشَةً ) البحر الرائق (٢/ ١٧١)ژباړه (مستحب دي) چې ښکاره کړي خوشحالي او خوش اخلاقي .

## د اختر په ورځو کې له ناوړه رسمونو او عادتونو څخه ځان ساتل:

هغه ناوړه رسمونه او عادتونه چې مسلمانان ورڅخه ځان وساتي په لاندې ډول دي:

**۱-د اختر لمونځ ترک کول گناه او ناروا کار دی**.ځینې خلک او ځوانان پرته له عذره د اختر لمونځ نه کوي یا په کور کې ناست وي او یا په دوکانداری یا بل کار باندې مشغول وي او ډیر لوی خیر څخه محروم شي، چې دا کار شرعاً ناروا کار دی؛ ځکه چې د اختر لمونځ په هر مکلف نارینه باندې واجب دی.امام حدادي رحمه الله لیکلي دي:(وَتَرْكُ صَلَاةِ الْعِيدِ ضَلَالَةٌ وَبِدْعَةٌ).الجوهرة النيرة(۱ /۳٦٦)ژباړه:او داختر لمونځ ترک کول گمراهي ده او بدعت دی.

**۲-د ځارویو او مرغانو جنگول ناروا کار دی**. ځینې خلک د اختر په مبارکو ورځو کې د خوشـــحالی په نوم ځان ته ټول حرام کارونه حلال کړي لکه د سـپیو، بانگیانو، مږه زانو او نورو حیواناتو او مرغانو جنگول، ځکه چې دا ټول بیهوده او ناروا کارونه دي. او مسلمان ته په کار دي چې د داسې ناروا کارونو څخه اجتناب وکړي. په حدیث شریف کې راځي:(نَهَى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ.» ابو داود-( ۲ /۳۳۱)

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې نبي علیه السلام منع کړی ده د ځارویو د جنگولو څخه.

**۳-د اختر په ورځو کې په پاڼو ، چار مغزو او هگیو جنگولو باندې قمار کول حرام کار دی**. ځینې خلک بیا د اختر بختورې ورځې او شپې د قمار موسم گڼي او په حجرو کې قمارونه کوي یا هگۍ جنگوي.

قمار کبیره گناه ده او قمار هر وخت حرام دی ؛ خو د اختر په مبارکو شپو او ورځو کې یې حرمت نور هم غلیظ کیږي.

الله تعالي فرمايلي دي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ).المائدة: (۹۰)

ژباړه:ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! بیشکه همدا خبره ده چې شراب او جواري او بتان او فال غشي پلیت دي، د شیطان له عمله دي، نو تاسو له دینه ځان وساتئ، ددې لپاره چې تاسو کامیاب شئ.

امام ذهبي رحمه الله وایې: (المیسر) قمار ته ویل کیږي په هره طریقه چې وي لکه سطرنج، غمي، لرگي ، چارمغز، هگۍ او ریگ او داسې نور . دا د خلکو د مالونو خوړل دي په باطله لار سره او الله تعالی فرمایي: { و لا تأكلوا أموالكم بينكم بالباطل } تاسې مه خورئ خپل مالونه په خپلو منځونو کې په باطله طریقې سره.او دصحیح البخاری په حدیث کې راځی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: [مَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ أُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ] رقم الحديث: (٤٨٦٠) چاچې خپل ملگري ته وویل چې راشه چې زه درسره قمار وکړم ؛ نو هغه دې صدقه ورکړي.
کله چې مجرد د قمار وینا کول صدقه واجبوي ؛ نو ستا څه فکر دی د قمار د فعل په اړه؟ .الکبائر (ص: ۸۸)
آن تردې پورې چې فقهاء کرام وایې چې په کومو هگیو او چارمغزو قمار شوی وي ؛ اخیستل یې جائز نه دي.
ابن نجیم رحمه الله لیکي:(وَلَا يَجُوزُ شِرَاءُ بَيْضِ الْمُقَامِرِينَ الْمُكَسَّرَةِ وَجَوْزَاتِهِمْ إذَا عَرَفَ أَنَّهُ أَخَذَهَا قِمَارًا). الأشباه (ص: ۱۱۳)
ژباړه: او جائز نه ده اخیستل هگۍ د قمار بازانو چې ماته شوي وي او د هغوی چارمغز کله چې معلومه شي چې دوی دا هگۍ او چار مغز په قمار کې تر لاسه کړي دي.

**۴-د اختر په مبارکو ورځو کې ساز او سرود غږول او نور ناروا مجلسونه جوړول ناروا کار دی.**

داختر په ورځو کې د غیرشرعي او ناروا رواجونو څخه ځان ساتل په کار دي. ځیني داسي مراسم شته چې نه تنها داچې جایز نه دي او فایده نه لري؛ بلکې شرعا حرام او ناروا دي؛ لکه د موسیقی محفل جوړول، دشراب څښلو او پرته د قمار څخه د عادي ورقو کولو مجلس جوړول او دېته ورته نور محافل چې ځیني ددین څخه ناخبره خلک یې په دې مبارکو ورځو کې جوړوي.

الله تعالی فرمایلي دي:{وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ} [لقمان:( ٦)

ترجمه:او په خلکو کې ځیني هغه څوک دي چې عبثې خبرې اخلي،ددې لپاره چې بې له علمه د الله له لارې نه(خلک) گمراه کړي او دغه(لاره) مسخره جوړه کړي، دغه کسان دي چې دی ، ددوی لپاره سپکوونکی عذاب دی.ابن عباس رضي الله عنه او حسن بصري رحمهما الله (لهو الحديث) د لهو ولعب باندې تفسیرکړی دی. الزواجر للهيتم (٢ /٣٣٦)په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:{وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ} [الإسراء:(٦٤)ترجمه: او وخو ځوه(راگیر کړه )هغه څوک چې طاقت دې رسیږي پر هغه باندی له دوی نه په غږ(بلنه)خپله سره(فساد).

امام مجاهد رحمه الله (بصوتک) په سندور او شپیلیو غږولو تفسیر کړی دی. الزواجر عن اقتراف الكبائر (٢ /٣٣٦)

عن أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ- وَاللَّهِ مَا كَذَبَنِي- سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ يَسْتَحِلُّونَ الْحِرَ وَالْحَرِيرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ» صحيح البخاري (١٤ /١٦١) ژباړه: د ابو مالک اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی راوي وایې قسم په الله چې هغه ماته درواغ نه دي ویلي- مالک اشعري وایې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: خامخا وي د امت زما څخه داسې یو قوم چې حلال به گڼي زنا کول او حلال به گڼي وریښم او شراب او د ساز او سرود وهلو وسائل.دا حدیث د مستوونکو آلاتو د استعمال په حرمت ښکاره دلیل دی.

**۵-په اختر کې دمړي کورته د تعزیی لپاره ورتلل:** د اختر په ورځو کې د مړ شوي شخص په کور کې فاتحې اخیستل او نوی جامې نه اغوستل او د مړ شوي شخص کورته ورتلل ټول نا سم رسمونه دي او ناوړه عادتونه دي او باید چې ځان ورڅخه وساتو. د اختر په مبارکو او د خوښیو په ورځو کې خلک د هغه مړي کورنۍ ته ورځي چې د همدې کال په جریان کې یا څو میاشتې مخکې وفات شوی وي او هغوی ته تسلي ورکوي او هغوی ته تیر غم بیا را تازه کوي . همداراز د مړي د کورنۍ اشخاص هم په اختر کې نوی جامې نه اغوندي، ځان نه پاکوی او هیڅ ډول اختریز مراسم نه ترسره کوي او د اختر په ورځو او شپو کې د غم حالت غوره کوي چې داکار شرعا روا نه دی او غلط رواج دی، ځکه دا ورځې د مصیبت لپاره نه دي ، بلکې د خوشحالۍ لمانځلو ورځې دي .

**٦-د اختر په ورځو کې قبرستانونو ته تلل ناوړه رسم او عادت دی:** په ځینو خلکو کې دا عادت او رسم دی چې د اختر په ورځ داختر لمانځه پسې متصل قبرستان ته ورځي او مړو ته دعاء کوي او د خوشحالی په موسم کې غم را ژوندی کوي.

داسلام سپیڅلي دین کې د غم او خپگان مناسبتونو ورځې او شپې هم مشخصې دي او د خوشحالیو او خوښیو مناستونو وختونه هم معلوم او مشخص دي ؛ نو دخوشحالۍ پر وخت غم لمانځل او ایجادول او د غم پر وخت د خوشحالی اظهار د شرعي موازینو گډ وډ کول دي.

علامه حدادي لیکلي دي: (وَتُكْرَهُ بَعْدَ ذَلِكَ لِأَنَّهَا تُجَدِّدُ الْحُزْنِ) الجوهرة النيرة (١ /٤٣٠)

ژباړه: له (درې ورځو) څخه وروسته تعزیه کول مکروه ده؛ځکه چې دا کار غم تازه کوي.

علامه طحطاوي ليکلي دي:(ولا ينبغي لمن عزى مرة أن يعزي أخرى) حاشية الطحطاوي على المراقي (ص: ٤١١)

ژباړه: او په کار نه ده چې څوک يو ځل تعزيه کړې وي ، په دوهم ځل تعزيه وکړي.

**د اخترونو په ورځو کې د ناوړه رسـمونو او بدو عادتونو په اړه عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله د فرمان په (۳) بند کې داسـې راغلي دي:( په ځينو سيمو کې د رواج له مخې خلک د مړي په لومړي اختر د مړي کور ته د تعزيت لپاره ورځي ، دا هم ناسم رواج او منع دی).**

**۷-د اختر په ورځو کې ږيره خريل يا لنډول ناروا او بد عادت دی.** ډيری خلک داختر په ورځو کې د ځان د ښايست لپاره ږيره خريوي او يا داسې لنډوي، چې دا کار په شريعت کې حرام کار دی ؛ ځکه د ږيرې په پريښودلو باندې په شريعت کې امر شوی دی او بل داچې د ږيرې په خريلو يا لنډولو کې د کفارو ځان مشابه کول دي چې په دې باره کې هم سخت وعيد راغلی دی . نبي عليه السلام فرمايي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ» سنن أبى داود(٤ /٧٨)ژباړه: چاچې ځان مشابه کړ د کوم قوم سره ،نو پس دی هم د هغوی له جملې څخه دی.

**۸-د نامحرمو او بيگانه ښـځو ته لاس ورکول او هغوی ته مبارکي ورکول حرام کار دی.**زمونږ د هيواد پـه اکثرو خلکو کې دا رواج دی چې د اختر په ورځو کې يو د بل کورته د اختر مبارکۍ لپاره ورځي او بيا يو بل ته لاسونه ورکوي، چې نامحرم کسان هم نا محرمو ښځو ته د مبارکۍ لاس ورکوي چې دا کار شرعاً ناروا او حرام کار دی.بيگانه ښځې ته لاس ورکول په شريعت کې حرام دي. په حديث شريف کې راځي: عن مَعْقِل بن يَسَارٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«لأَنْ يُطْعَنَ فِي رَأْسِ رَجُلٍ بِمِخْيَطٍ مِنْ حَدِيدٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمَسَّ امْرَأَةً لا تَحِلُّ لَهُ». مسـند الروياني (٢ /٣٢٣)، المعجم الكبير للطبراني (١٥/ ١٤٣)ژباړه: داچې ووهل شي د سړي په سر کې د اوسپنې ستنه دا ورته غوره ده ددينه چې لمس کړي لاس د داسې ښځې چې ده ته حلاله نه وي. يعنې نامحرمه وي.

**۹-د ښځو او سړو گډ مجلسونه او د نامحرمو ښځو سره اختلاط ناروا او ناوړه رسم او عادت دی.**

په اکثرو خلکو کې دا عادت دی چې د اختر په ورځو کې په کورونو کې دخپلو او خپلوانو سره گډ مجلسونه جوړوي او د نامحرمه سړو او ښځو ترمنځ اختلاط راولي چې دا کار په اسلامي شريعت کې ناروا دی.

په دغسې مجلسونو کې د ښځو او سړو گډ مجلسونه کوي ، يو بل ته گوري، يو د بل سره تماس نيسي چې دا کار زاتې فتنې زيږوي. د ماما زامن ، د کاکا زامن،د کورنۍ خوری، وراره او داسې نور د کور له پيغلو انجونو سره اختلاط کوي او يو له بل سره د زړه خواله هم کوي.

د ښځو او سړو ترمنځ اختلاط کې حجاب او کورنۍ عفت له منځه ځي او زنا او ناروا اړيکو ټينگولو ته لار هواروي . همدا وجه ده چې الله تعالی د اختلاط مخه بنده کړې ده او فرمايي:( وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ} [الأحزاب:٥٣].

ترجمه: او کله چې تاسې له دغو(پاکو بيبيانو) نه څه سامان غواړی، نو له دوی نه يې په داسې حال کې غواړی، چې تاسې له پردې نه د باندې يئ، دا (کار) ډير پاک ساتونکی دی ستاسو زړونو لره او د هغوی زړونو لره.دا هغه خطاب دی چې الله تعالی د ځمکې په سر پاکو سړيو صحابه کرامو ته کړی او هغو ښځو ته يې کړی دی چې هغوی د امت ميندې دي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم بيبيانې دي ؛ نو د هغو خلکو به څه حال وي چې څوارلس سوه کاله وروسته دفتنې په وخت کې قرار لري او دقسما قسم فتنو په منځ کې راگير دي.

**۱۰-په خلکو کې ویره خپرول او چاودیدونکي توکي الوزول ناوړه عادت دی:** د اختر پـه شــپو او ورځو کې اکثره ځوانان او هلکـان پټاقیو د خلکو کورنو ته ور اچوي او یا یې په لارو کې د تیریدونکو خلکو په پښــو کې اچوي او په دې طریقه خلک ویروي او په وارخطایي کې اچوي، چې دا یو ناوړه او ډیر بد کار دی. له بل پلوه صوتي الودګي پیدا کوي چې کورنۍ ورځخه په تنګې وي. په اسـلامي شریعت کې هر هغه کار چې نورو ته ورځخه ضرر پیښیږي حرام دی او د مسلمان ویرول حرام عمل دی.

په کورونو کې مریضــان وي په شــفاخانو کې هم ذهني او کمزوري بوډا ګان وي چې د پټاقیو الوزول ورته ســخت زیانمن تمامیږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « لاَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يُرَوِّعَ مُسْلِمًا ». سنن أبی داود- (٤ /٤٥٨) ژباړه: جائز نه دي یو مسلمان ته چې دا چې ویروي بل مسلمان لره.

**۱۱-بازارونو ، سرکونو او کوڅو ته د ښــځو وتل د ډول او ســینګار سره د جاهلیت د زمانې رســم دی او باید چې مسلمانان ورځخه ځانونه وساتي.** په اخترونو کې د ښځو عادت دی چې ځانونه سینګار کړي ، په ځان عطر ووهي او بیا بازارونو ، کوڅو او سرکونو کې ګرځي چې دا کار د عفت او پاکدامنۍ خلاف عمل دی او باید چې د کور مشران او د ښځو خاوندان ددې ناکاره عمل مخه ونیسي. الله تعالی ښځو ته امر کړی دی چې ښځې باید په کور کې قرار ونیسي. ( وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُن وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الجَاهِلِيةِ الأُوْلَى).الاحزاب: (۳۳)

ترجمه: او تاسو په خپلو کورونو کې قرار ونیسئ او تاسو لومړنۍ جاهلیت د زینت ځرګندونې په شان زینت مه ځرګندوئ.

په حدیث شریف کې راځي: عن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« أَيُّمَا امْرَأَةٍ اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ بِقَوْمٍ لِيَجِدُوا رِيحَهَا فَهِيَ زَانِيَةٌ » مسند أحمد (۳۲ /٤٨٣) ژباړه: د ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کومې ښځې چې عطر استعمال کړل او بیا په یو قوم باندې تیره شوه ، ددې لپاره چې هغوی ددې بوی حس کړي ؛ نو داسې ښځه زناکاره ده.

**۱۲- داختر په ورځو کې اسراف او تبذیرځخه ځان ساتل په کار دي.**

د اختر په ورځو کې خلک د جامو ، پیزار او خوراکي شیریني باب په اخیستلو کې اسراف کوي او له حاجت ځخه زیات لګښتونه کوي چې دا کار د شریعت له نظره سم کار نه دی او په اسراف کې حسابیږي او د اسراف څخه الله تعالی منع فرمایلی ده. الله تعالی فرمایلي دی:( وكُلُواْ وَاشْرَبُواْ وَلاَ تُسْرِفُواْ إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ) [الاعراف:( ۳۱)

ترجمه: او خورئ او څښئ او اسراف (بیځایه خرڅ ) مه کوئ بیشکه الله اسراف کوونکي نه خوښوي .وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :(كُلُوا وَاشْرَبُوا وَالْبَسُوا وَتَصَدَّقُوا فِي غَيْرِ إِسْرَافٍ وَلَا مَخِيلَةٍ) صحيح البخاري (١٤ /٤٤٧)

ژباړه : رسول الله صلی لله علیه وسلم وفرمایل : وخورئ او صدقه ورکړئ او واغوندئ پرته له اسرافه اوځان خوښولواو ویاړنې څخه.

**تقبل الله منا ومنکم صالح الأعمال**

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**